تول جوک

# د 2009 د جنورۍ "پښتون"ته

# یو لنډ نظر

سعدالله میوند اټک

د روانې میلادي میاشتې په شلمه نېټه د عوامي نېشنل پارټۍ اټک ستي تنظیم له خوا د خان عبدالولي خان د دریم تلین په مناسبت د باګرام انګلیسی او پښتو اکاډمي په دفتر کښې د یوۀ وړوکي پروګرام تابیا شوې وه، حسب معمول ما هم په پروګرام کښې برخه اخستې وه، ملګرو د رهبر تحریک په شخصیت خوږې خبرې وکړې او د هغوي سپېڅلي روح ته ئې د دعا لاسونه پورته کړل. په آخر کښې راته خواږۀ ملګري شېر جان تکل (پښتون مجله) راکړه خدائے شته د زړۀ له کومې پرې خوښ شوم او څنګه چې کور ته ورسېدم سره له دې چې یو مېلمه هم راکره ناست ؤ، په مطالعه ئې بوخت شوم، وړومبے خو مې زر زر د تصویرونو پاڼې وکتې او بیا د فهرست پاڼې ته لاړم، عنوانونه مې ټول خوښ او ډېر راته په زړۀ پورې وو، مضمونونه کۀ له یوې خوا د پښتونخوا د نامتو ادبي او سیاسي خېرو د خیال او فکر په ملغلرو ډك ښکارېدل له بله پلوه ئې د فخر افغان باچا خان بابا او د رهبر تحریك خان عبدالولي خان د تلین، د هغوي د سیاسي وېناوو او د ښائسته لیکنو خلا هم درلوده. کۀ څۀ هم مجله د نورو ګڼو په پرتله پنډه او ضخیمه چاپ شوې وه خو په پورتني




مناسبت سره مې د خپل عادت په خلاف وپتیله چې د پښتون دغه خاصه ګڼه به سرترپایه ګورم. لنډه دا چې نژدې د دوۀ شپو او ورځو په دوران کښې مې د مجلې ټول مضامین د سر او زړۀ له سترګو تېر کړل، رښتیا هم چې د مجلې ټولې لیکنې په زړۀ پورې او زما د پاره ډېرې جالبې وې، ځکه چې له یوه پلوه ئې زما ادبي تنده راماته کړه او له بله پلوه ئې د حضرت باچا خان بابا او ولي خان د سیاسي ژوند سره لا

اشنا کړم. د دغې ګڼې ټولې ليکنې او نظرونه د تحليلي، معلوماتي، سياسي او ادبي رنګينيو څخه ډکې، ژبه ئې خوږه او چاپي ترپوتنې ئې هم نۀ درلودې.

دا خو ؤ دغې خاصې ګڼې ته يو لنډ نظر. اوس به راشو دې خبرې ته چې پښتون مجله د پښتون قام د شعوري خوځښت هغه وړومبنۍ مطبوعاتي او اطلاعاتي هڅه وه چې زمونږ د ستر لارښود حضرت باچا خان د عظيم انساني فکر په نتيجه کښې منځ ته راغلې وه او د پښتون قام د شعوري ودې دپاره به ئې د هغه وخت سياسي، ادبي او ټولنيز خبرونه او مواد خپرول، خبر ډېر لرې پس منظر ته به نۀ ځو خو کۀ په لنډه توګه ئې دغه تېر درېم دور او څلورم خپرنيز کال چې د نامتو شاعر او پياوړي تجزيه نګار رحمت شاه سائل په مديريت کښې خپرېږي، مطالعه کړو، فکر کوم چې د لرې پښتونخوا د معياري چاپي رسنيو په وړومبي قطار کښې به وشمېرل شي او په دې لړ کښې به ښې په زړۀ پورې لاس ته راوړنې ولري.

کۀ څۀ هم ما ئې د دغه دور ټولې ګڼې نۀ دي ترلاسه کړې خو زما د معلوماتو له مخې په تېرو دريو څلورو کلونو کښې پښتون پخپل ټاکلي وخت د هم هاغه وخت د سياسي څۀ نا څۀ ادبي او ټولنيزو خبرونو يو په زړۀ پورې تصويرونه د خپلو مينه والو مخې ته ايښي دي او هڅکله ئې هم کومه ګڼه ځنډول شوې نۀ ده، فکر کوم هم دغه پرله پسې خپرېدل وو چې دا ځل ئې هم ځان ته لوستونکي پېدا کړل او هم ئې د ليکونکو شمېره ډېره شوه، داسې اټکل کېږي چې دا ځل د پښتون ټول ټيم له هره پلوه کلک هوډ کړے دے چې خپل دغه علمي، سياسي، ادبي، تاريخي او قامي رسالت په ښۀ مېړانه، رښتيني پښتني پت او ښۀ اداري منېجمنټ سره وپالي او ان تر اخره ئې په هم دغسې صداقت او محنت سره وچلوي. دا ځل کۀ پښتون د خپل حقيقي باني باچا خان بابا عملي او علمي سرپرستي نۀ لري خو زمونږ پوخ باور دے چې د هغوي د سپېڅلو مترقي ارمانونو الهامي اغيز لا هم زيات شوے او د هغوي حقيقي مريدان لګيا دي د خپل دغه عظيم رهبر کرلي بوټي "پښتون" د زړۀ په وينو لويوي او غواړي چې د حضرت باچا خان دغه لوئے ارمان دې نيمګړے پاتې نۀ شي، بلکې په رښتيني شکل دې زمونږ د ستړي، ربړېدلي او اسکيرلي قام په وجود کښې لا هم هم هاغه د ازادۍ جذبه او د عدم تشدد لوړه انساني فلسفه ژوندۍ وساتي او د علمي معلوماتي بهير دغه غوره سلسله دې لا هم ګړندۍ کړي.

کۀ مونږ لږ هم ځير شو او د اوسني وخت د سياسي او ټولنيزو حالاتو صحيح شننه وکړو، دا خبره به راته روښانه شي چې په ننني سائنسي دور کښې مېډيا يو ډېر لوئے بين المللي ارزښت پېدا کړے دے او د ځينو سياسي تحليل ګرانو او ادارو له خوا خو لا دا تجويز هم ورکول کېږي چې رسنۍ (مېډيا) دې د دولتونو د څلورم رکن په حېث قانوني شکل پېدا کړي، له دې هر څۀ نه دا خبره جوتېږي چې رسنۍ د ملکونو او قامونو د ټولنيز او علمي شعور، په وده کښې ستر رول لوبولے شي او د ټولنيز مثبت بدلون دپاره تر ټولو ښه او اغيزمنه وسيله ګڼلې شي. د امريکې د متحده ايالتونو خبري

اڅانسونه، نړیواله بي بي سي او هم دارنګه د نورو په لسګونو پرنټ او الیکټرانک میډیا نمونې وړاندې کېدلې شي چې د خپل ملي چوکاټ په داخل کښې ئې ارزښتناک خدمتونه تر سره کړي چې نن سبا له هره پلوه بسیا او د خپلو خپلو مورنیو ژبو لا علمي کېدو او په پرمختیا بوخت دي.

دلته کۀ مونږ د مورنۍ ژبې او په خپله مورنۍ ژبه کښې د نني دور د پرمختللو قامونو خبره کوو دغه اصل ترې څرګندېږي چې دغو ټولو ملکونو او قامونو خپلو مورنیو ژبو ته ډېر درنښت ورکړے دے او د خپلې ژبې له لارې ئې په مطبوعاتي او تعلیمي ډګر کښې د ذکر وړ پرمختګ کړے دے، دا ځکۀ چې هغوي دغه اصل مهم درک کړے دے چې د قامونو د ژوند ژواک د ساتلو او پرمختللو یواځینۍ وسیله چې بیا هم قامونو ته د ماضي، حال او مستقبل د یوۀ روښانه او خپلواک سباوون زېرے ورکولے شي، هغه د مورنۍ ژبې وده او په خپلو تاریخي او قامي اقدارو د خپل مکمل واک درلودل دي چې له نېکه مرغه د نن پښتون دغه هر څۀ په خپلو سترګو وینې او انشاءالله هغه ورځ لرې نۀ ده چې د نړې دغه ساده لوحه، ننګیالے او سپېڅلے قام دې هم دغه اهم اصل ته متوجه شي او زمونږ د عظیم قامي هیرو حضرت باچا خان د ارمان هم دغه یوه لار دې ونیسي چې د خپلې ژبې، خپلې خاورې او خپلو قامي ارزښتونو ساتندویان دې شي. نن سبا کۀ څۀ هم دغه ستر قام په جغرافیائي او سیاسي لحاظ په دوو بیلو بیلو ریاستونو کښې سره ویشل شوے دے خو زما پوره باور دے چې دغه ډول مصنوعي کرښې هېڅکله هم د دغسې یوۀ ستر او غېرتي قام وجود ته خنډ کېدے نۀ شي او په اوسني زماني او مکاني حالت کښې لر او بر پښتانۀ دواړه د دې جوګه دي چې خپله مورنۍ ژبه دې بې له کوم تعصب او ویرې څخه د تعلیمي، تبلیغاتي او مطبوعاتي ډګر اډانه وګرځوي او له خپل دغه خدائې ورکړي عظیم حق څخه دې په کلکه دفاع وکړي او د ستر محمد ګل خان مومند بابا د خبرې په مصداق دې پښتو ووائي، پښتو دې ولیکي او په علمي شکل دې زده کړي.

له دې سره به له یوه پلوه د دوي ټول سیاسي، سماجي او اقتصادي کارونه په ښه توګه پر مخ ولاړ شي او له بله پلوه به د دغه ستر اولس زړۀ هم لاس ته راوړي، هم به ئې د نړیوال تاریخ په وړاندې قامي پېژندګلو پیاوړې او خوندي شي او هم به ئې پر ځان او نورو قامونو د باور، روحیه تقویت پېدا کړي، دغه اولس کۀ لر دے کۀ بر او کۀ پر بله هره زمکه، ژبه ئې یوه، کلتور ئې یو او یو ډول قامي جوړښت لري،دغه قام به هلته پر مونږ او خپل ځان باوري شي چې مونږ د هغوي په خپله ژبه له هغوي سره وغږېږو، د هغوي بچي په خپله مورنۍ ژبه کښې د تعلیم ډګر ته راولو او خپلو، فطري او قامي اقدارو سره سم د خپلو ګټو او ګډو مسئلو د حل لارې چارې ولټوو.

لرې به نۀ ځو راځئ یو ځل بیا د "پښتون" په تېره چاپ ګڼه کښې د خپل بابا په دغو فلسفي خبرو ښۀ غور وکړو چې په مرغز کښې ئې یوې تاریخي جلسې ته د اعلان په صورت کښې کړې دي.

«نو راپاځئ غور او فکر وکړئ، مونږ پښتانۀ د یو بابا اولاد یُو» «یو قام یُو، یو وروڼه یُو، را ټول

شئ مونږ به یو قومیت جوړېږو» بابا راته په ډاګه وائي چې د یوه قام دپاره اتفاق او خپله د خپل ځان حلول ډېره ضروري خبره ده مونږ کۀ د بابا د دغو خبرو او په ټولنیزه توګه د هغوي د قامي نظریاتو لړ جاج هم واخلو ډېر ژر به دې پایلې ته ورسېږو چې د هر قام ژوند د هغوي په خپل لاس کښې دے، کۀ چرته هر قام اتفاق او یووالے ولري او په خپلو کښې سره یو شي او له نورو قامونو سره د متقابل احترام او حق پر بنیاد سیالي وکړي هم به د خپل قام او تاریخ دپاره مثبتې لاس ته راوړنې ولري او هم به د نړۍ د نورو ځپلو قامونو دپاره د عبرت علامت وګرځي.

شاعر مشرق علامه اقبال فرمائي:

فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہین
موج ہے دریا مین اور بیرون دریا کچھ نہین

خبره مې ځکه لږه اوږده کړه کۀ خدائے وکړي وتوانېږو او په صحیح توګه د خپل قامي تشخص په ډېره حساسه مسئله یو بل ته په صداقت سره لاس ورکړو او هره سیاسي ډله بلکې هر پښتون وګړے په دې خبره پوهـ کړو چې د سائنس او ټیکنالوجۍ په نننۍ ګړندي وخت کښې لا هم د قامي بقا سوال د هر هغه قام په وړاندې پروت دے څوک چې غواړي، د خپل ځان، تاریخ او قامي تشخص روح ژوندے وساتي. ښکاره خبره ده چې پښتون قام له دغسې یوۀ نسبي حالت سره مخ دے چې هم په تاریخي لحاظ د مختلفو سیاسي چالونو ښکار ګرځېدلے او هم ئې نن له دغو زړو او نویو پرهرونو څخه وینې بهېږي، د دې دپاره چې خدائے مۀ کړه دغه پرهر ئې په ناسور بدل شي ښۀ به دا وي چې په نره له خپلو ټولو قامي حقوقو څخه په هر ځائے کښې دفاع وکړي او په دې لړ کښې هر تېري کوونکي ته د متقابل احترام په بنیاد غابښ ماتونکے ځواب ورکړي، هېڅکله او په هېڅ قیمت خپله ژبه او خپل قام له بل چا کم ونۀ ګڼي، بلکې دې هر څۀ ته د یوۀ ستر ازلي امانت په سترګه وګوري او په ښه او سالمه توګه ئې وپالي.

دغه ننګیالے قام کۀ لر دے او کۀ بر، ژبه ئې د ادب، سائنس او نورو اړوندو چارو د پرمخ بېولو پوره پوره وړتیا لري، بره کۀ د اقلیت توکم فارسي ژبه د دولت د چارو ژبه ده او یا دلته د اردو، پنجابي او نورو ژبو دپاره په هره سطح کار روان دے، زمونږ ټولو سیاسي ګوندونو، علمي مؤسسو او مطبوعاتي ادارو ته بویه چې اودۀ پاتې نۀ شي او لکه څنګه چې "پښتون" مجلې دغې لړۍ ته زور ورکړے هم دغه شان دوي ته هم ښائي چې له خپل فزیکي، مالي او فکري قوت څخه پوره پوره ګټه واخلي او د خپلې مورنۍ ژبې د لا پرمختیا او غوړېدو دپاره کار وکړي، ځکه چې زمونږ د قامي، تاریخي او بالاخره انساني شناخت او پېژندګلو یوائینۍ وسیله هم دغه ژبه ده. مونږ کۀ د نننۍ نړیوال سیستم په زړۀ کښې خپل تشخص پېدا کول او خپل تاریخي عظمت خوندي کول غواړو بقا ئې یوائې او یوائې زمونږ په مورنۍ ژبه پورې تړلې ده.

اسلام بېشکه چې زمونږ تلپاتے دیني او مذهبي حېثیت ژغورلے شي او بېشکه چې ټول مسلمانان سره یو ورونه دي خو د قامي تشخص د

ساتني په پار به مونږ په خپلو کښې سره کښېنو او د خپل ځان خپل حق او خپل قوميت د پرمختگ لاړې چارې به په خپله لټوو. دلته لوئے ځښتن هم مونږ ته توصيه کوي چې ما انسانان ځکه ډلې ډلې پېدا کړل چې هغوي يو او بل سره وپېژني او د يوځ او بل يعنې يوځ قام او بل قام پېژندگلو صرف او صرف په مورنۍ ژبه کېدے شي نۀ په بل څۀ.

د هم دغسې لوړو مذهبي، قامي او انساني متقابلو جذبو او اړيکو سره يو ځل بيا هم پښتون قام او د دغه عصر پښتون مجلې ته د لا ښۀ چوپړ په هيله.

# يوه ضروري تصحيح

## امجد اصغر خان

نوټ: مونږ ته د جنورۍ ۲۰۰۹ د باچا خان او ولي خان د نمبر په حواله ملگري امجد اصغر خان چې د وردگې، ميرې (چارسدې) اوسېدونکے دے (د ملگري احسان الله چې د باچا خان ريسرچ سنټر سره تعلق لري) د هغۀ د يو تحقيق په حواله (د باچا خان شجرۀ نسب او د هغۀ کورنۍ) مضمون کښې ځنې غلطۍ په گوته کړې دي. ما د خپله طرفه د دې تصديق د څو نورو ښاغلو نه هم وکړو چې هغه د امجد اصغر خان د معلوماتو تصديق کوي، بيا هم زۀ د دې "نوټ" سره د ملگري امجد اصغر دغه خط د دې دپاره چاپ ته من و عن سپارم چې لوستونکو ته دا معلومات هم ور ورسي چې دا رساله "پښتون" څومره خلق په ژور نظر گوري او څومره په دې کښې د ورکړې شوو معلوماتو جاج په تنقيدي نظر اخلي. زمونږ دپاره د خوشحالۍ خبره ده چې زمونږ په شوي تحقيق کښې زمونږ لوستونکي هم زمونږ سره څنگ په څنگ ولاړ دي او خپلې تاريخي کوتاهۍ يا غلطۍ راته په گوته کوي. په هم دې طريقه به مونږ د صحيح تاريخ سره سره د ځنې داسې حقيقتونو سره هم اشنا کېږو، د کومو سره اشنائي چې نۀ يوا ځې زمونږ دپاره ضروري ده، بلکې د راتلونکو نسلونو دپاره هم د حد نه زيات ضروري ده. مونږ د دې باوجود هم د ملگري امجد اصغر خبره حتمي نۀ گڼو، کۀ د دۀ او د دۀ د معلوماتو د تصديق کوونکو ورونو سره هم چا ته په دغو معلوماتو کښې کمے په نظر راځي او مونږ په وخت خبر کړي نو د هغوي د مننې سره به هغه معلومات چاپ ته هم وسپارو.

مونږ د ملگري امجد اصغر مننه کوو چې مونږ ته ئې په وخت دغه معلومات راوسپارل. لوستونکي دې په دغه مضمون کښې د دغه معلوماتو په هم دې شکل کښې تصحيح وکړي. چيف ايډيټر

گرانه او قدردانه سائل صېب! د ميني اباسين

پښتون چې د نومړو "باباگانو" نمبر دے، مې مخکښې پروت دے.

ډېر گټور معلومات پکښې دي، ستاسو ډېر کړاؤ پکښې ښکاري. د باچا خان بابا د شجرې په باره کښې زۀ يوه خبره د تاريخ په پاڼو کښې ضروري گڼمه چې دا خبره شرعي ته برابره وي.

په ۹۶ مخ کښې د بهرام خان دوه زامن خان صېب او عبدالغفار خان او دوه لوڼه چې نومونه ئې شمع بي بي او قرېشه بي بي وو، تاسو ليکلي دي چې شمع بي بي د بهرام خان مشره لور وه چې د رځړو په "برهان خان" واده وه، دا خبره سمه نۀ ده ليکلې شوه.

شمع بي بي د بهرام خان مشره لُور وه چې په عطاءالله خان واده وه چې په محمدنارۍ کښې اوسېدو، د هغې يک يو زوے ؤ چې نوم ئې سلطان محمد خان ؤ.

قرېشه بي بي د بهرام خان کشره لُور وه چې د رځړو په "برهان خان" وادهٔ وه، د قريشې بي بي پنځهٔ زامن او درې لوڼه وې. د زامنو نومونه ئې دا دي:

شادمحمد خان، فدا محمد خان، عطاء محمد خان، فتح محمد خان او پروفېسر جهانزېب نيازخان. د لُوڼو نومونه ئې دل افروزه چې د مردان د سرانجام خان مور وه، ګوهر تاج بي بي چې په تاجو بي بي مشهوره وه، د اسفنديار ولي خان مور وه او حسن افروزه چې په ټاټي۔ بي بي مشهوره وه او وادهٔ نهٔ وه.

سائل صېب! د باچا خان بابا په شجرهٔ نسب چې احسان الله کوم کار کړے دے نو هغهٔ د ستائينې وړ دے، ما پکښې دا يوه خبره ځکه په ګوته کړه چې دا هر څهٔ تاريخ شي او نورے کُول ترې استفاده کوي نو چې هغوي ته خبره واضحه وي. ډېره ډېره مننه